د حزب التحرير
ولايه افغانستان
مطبوعاتي دفتر

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُم فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾

حزب التحرير
HIZB UT TAHRIR

سه شنبه ۰۸ شعبان ۱۴۳۹هـ | ۲۰۱۷-۰۴-۲۴م | گڼه: ح.ت.افغ ۱۴۳۹/۰۵

مطبوعاتي اعلاميه

# باید وپوهېږو: ډيموکراسي او ديکتاتوري د يوې سکې دوه مخونه دي!

تر هغې وروسته چې د راتلونکو ټاکنو لپاره د نوم‌ليکنې په پروسه کې د خلکو ډېر لږ ګډون د افغانستان دولت د مشرانو د سختې اندېښنې لامل شو، د افغانستان جمهوري رياست امر وکړ، چې دولتي مامورين دې په يوه اونۍ کې له خپلو کورنيو سره په ټاکنو کې د ګډون لپاره نوم ليکنه وکړي. همدارنګه يې د جوماتو امامانو ته امر وکړ، چې د جمعې لمانځه په خطبو کې د ټاکنو د اهميت په باب خبرې وکړي. د دغه امر د پيروۍ په موخه ځينو اړخونو او دولتي چارواکو خلک په ولايتونو کې ګواښلي چې په دولت کې به د هغو کسانو کارونو ته رسېدنه ونه شي، چې راتلونکو ټاکنو ته نوم‌ليکنه ونه کړي. دغه راز د دارالمعلمينونو او ښوونځيو ښوونکي او زده کوونکي په زور د ټاکنو د نوم‌ليکنې مرکزونو ته بېول کېږي.

راتلونکو ټاکنو ته د خلکو نه لېوالتيا او علاقه په حقيقت کې په افغانستان کې د خلکو وينېتيا او د ډيموکراسۍ او د هغې د ارزښتونو ماتې څرګندوي. هغه ارزښتونه چې د اوولسو کلونو په اوږدو کې د خورا مډرنو وسلو او لسګونو ميلياردو ډالرو د لګښت په زور د افغانستان پر خلکو وتپل شول؛ خو پر دې سربېره بيا هم دغو ارزښتونو د خلکو زړونو او ذهنونو ته لاره پيدا نه کړه؛ بلکې ورځ په ورځ د هغو په اړه د خلکو نفرت او کرکه زياتېږي، تر هغه چې ډيموکراسي داسې نظام ګڼي، چې له دروغو او دوکې پرته بل څه نه دي.

اوس واقعاً خلک له ډيموکراسۍ څخه نهيلي شوي او درک کوي، چې د افغانستان نمايشي ټاکنې داسې بهير نه دی، چې د افغانانو په اراده، تمويل او کنټرول تر سره شي او رايه يې رښتيا هم پکې اغېز ولري؛ بلکې داسې يوه پروسه ده، چې اراده، تمويل او ورستۍ پرېکړه يې امريکا او د هغې ملګري کوي، لکه څنګه چې په افغانستان کې د ۲۰۱۴م کال له ټاکنو د امريکا د بهرنيو چارو وزير جان کيري په ناولو لاسونو د ملي يووالي حکومت وزيږېد او د خلکو رايې بشپړې له پامه وغورځول شوې.

اوس د افغانستان دولت چې ځان «ډيموکرات» ګڼي، د دې لپاره چې خلک په ټاکنو کې برخه واخلي، ديکتاتورۍ ته مخه کړې او په زور د دولت پر مامورينو او خلکو –د دوی د ميل خلاف– نوم‌ليکنه تحميلوي. په داسې حال کې چې په دغه پروسه کې د خلکو نه ګډون د ډيموکراتانو په عقيده يو «ډيموکراتيک» حق دی؛ خو د افغانستان جابر دولت حتی دا «ډيموکراتيک» حق هم له خلکو اخلي او د اسلامي خاورو د نورو نظامونو په څېر خپله واقعي څېره، چې په اصل کې ظلم، ديکتاتوري او له اسلامي ارزښتونو جدايي ده، نندارې ته وړاندې کوي.

**د حزب‌التحرير - ولايه افغانستان مطبوعاتي دفتر**

د حزب التحرير ولايه افغانستان رسمي وېبپاڼه
www.hizb-afghanistan.org
ايميل پته
info@hizb-afghanistan.org

د حزب التحرير رسمي وېبپاڼه
www.hizb-ut-tahrir.org
د حزب التحرير د مرکزي مطبوعاتي دفتر وېبپاڼه
www.hizb-ut-tahrir.info